PROPERTY OF ACKU

اراده DAILY

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۷۶

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۷۶ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۵۱ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د چنگاښ ۱۲ مه - د یک شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شعبان المعظم ۲ مه د ۲۰۱۱ د جولای ۳ مه

امریکا له افغانستانه سرتېري باسي خو فرانسه نور سرتېري رالېږي!

فرانسه غواړي چې د ۲۰۱۲ کال په پسرلي کې افغانستان ته تر زرو زیات تازه دمه پوځیان واستوي.

دا په داسي حال کې ده چې تر دې مخکې د فرانسې دفاع وزارت ویلي وو چې د روان میلادي کال تر پایه به له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو څلورمه برخه وباسي.

د فرانسې په ستراتسبورګ ښار کې د فرانسې د زرغره وال کنډک قومندان ډګروال مرتن کلوتز پرون خبریالانو ته وویل چې د نویو فرانسوي ځواکونو لومړی ډله به د راتلونکي کال (۲۰۱۲) د مارچ له میاشتې **۳مـــخ**

ایران هم به نعل می کوبد و هم به میخ

ایرانی ها اگر از سویی دم دوستی و روابط دوستانه با افغانستان می زنند، ولی از سوی دیگر، با ارسال سلاح های کشنده هم امنیت افغانستان و هم افغانستان را به مخاطره می اندازند.

این نخستین باری نیست که در مورد حمایت تسلیحاتی ایران از شورشیان در افغانستان و عراق سخن گفته می شود، بلکه مقام های ناتو و افغان بار بار با ارایهٔ شواهد و اسناد موثق در این راستا از مداخلات بی شرمانهٔ ایران پرده برداشته اند، اما با این وجود، واکنش های رسمی در این زمینه بسیار ضعیف است.

در یک گزارش تازه آمده است، اردوی ایران اسلحه و مهمات جنگی نو کشنده را در ماه های اخیر به عراق و افغانستان قاچاق کرده است، تا مرحلهٔ خروج قوای امریکا را از این دو کشور سریعتر سازد.

در این گزارش که به وسیلهٔ روزنامهٔ وال استریت ژورنال از قول مقام های امریکایی که نام های شان ذکر نشده، آمده است که سپاه پاسداران انقلاب به گروه های ارتباطی خود ماین هایی را می دهند که همزمان با انفجار، اهداف را مانند راکت نشانه می گیرد. در نتیجهٔ استفادهٔ این سلاح ها قبلاً سربازان امریکایی کشته شده اند. مقام های امریکایی افزوده اند، ایرانی ها به طالبان افغان هم راکت های دور برد داده اند که توانایی حملات آنها را از راه دور بر قوای ناتو بیشتر ساخته است، بدون آنکه خود حمله کننده گان را در معرض خطر قرار بدهد.

در ارقامی که روز گذشته به نشر رسید، معلوم می شود که از ماه سپتمبر گذشته به اینسو، ماه جون برای عراقی ها کشنده ترین ماه بوده است و در ظرف سه سال بیشترین سربازان امریکایی هم در همین ماه در عراق کشته **ص۳**

افغانستان د پاکستان تر بریدونو وروسته پوځي احضارات نیولي

دافغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د پاکستان له خوا پر افغانستان له بریدونو وروسته اړین پوځي احضارات نیولي او سرحدي سیمو ته یې وسلې او مهمات لېږلي دي. دا څرګندونې دافغانستان د دفاع وزیر ستر جنرال عبدالرحیم وردګ او د کورنیو چارو وزیر لوی پاسوال بسم الله محمدي دولسي جرګې په پرونۍ غونډه کې وکړې. له تېرو درېیو اونیو راهیسې د پاکستان د توپچي ځواکونو له خوا د کونړ او ننګرهار پر سرحدي ولسوالیو او ځینو نورو ولایتونو په پرله پسې بریدونو کې لسګونو هېوادوالو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. دولسي جرګې په پرونۍ غونډه کې د جرګې یو شمېر غړو نیوکه کوله، چې افغان حکومت د پاکستان د دې بریدونه په اړه اړین غبرګون نه دی ښودلی. ملي شورا تر دې مخکې غوښتنه کړې وه، چې افغان حکومت دې د پاکستان بریدونو ته ورته ځواب ووایي. خو حکومتي چارواکو په یاده غونډه کې وویل، چې د افغانستان حکومت د یادو بریدونو د مخنیوي لپاره ډیپلوماتیکې هڅې کړې دي.

د دفاع وزیر ستر جنرال عبدالرحیم وردګ، د پاکستانیو ځواکونو له خوا د افغانستان پر خاوړې بریدونه وحشیانه

او ترهګریز وبلل او ویې ویل، چې نه پوهېږي له دې بریدونو پاکستان څه موخه لري؟

افغان چارواکو له پاکستانیو چارواکو سره د یادو بریدونو په اړه خبرې کړې او د بندېدو غوښتنه یې کړې ده؛ خو پاکستاني لوري په دې اړه بې خبري ښودلې ده. وردګ هم همدې موضوع ته اشاره وکړه او د دفاع وزارت د اقداماتو په اړه یې وویل، چې د هېواد په ختیځ زون کې د ۲۰۱ شاهین قول اردو ته امر شوی، چې شمېره یې دوه برابره کړي. دغه راز د ده په وینا، دې قول اردو ته یې امر کړی، چې د اضافه شویو پوځیانو لپاره لوژستیکي او تخنیکي وسایل برابر کړي. وردګ وویل، چې د ۲۰۱ شاهین قول اردو د غښتلتیا په موخه د ملي اردو **۳مـخ**

د افغانستان جګړه ولې په ختیځو سیمو کې متمرکزه کېږي؟

په داسې حال کې چې امریکایي پوځیان خپل هېواد ته د ستنېدو لپاره تابیا نیسي، په افغانستان کې مېشت امریکایي قومندانان پرېکړه کوي، چې د افغانستان په ختیځو پولو کې د یوې القاعده پلوې ډلې خطر جدي بولي.



په واشنګټن کې د جګړې د مطالعاتو د انستیتوت پوځي کارپوه جیف دریسلر وایي: «په زغرده ویلی شم چې بریالي نه یاست، که څه هم تاسو غواړئ چې د افغانستان ختیځ او هغو سخت دریځو ته له پامه پرته چې له القاعده سره یوځای عملیات کوي، بریالیتوب تعریف کړئ.»

د امریکایي ځواکونو یو قومندان جنرال ډن الین، چې د افغانستان په ختیځ کې د پنځه ویشت زره **۳مـخ**

د زابل چاودنې د ښځو او ماشومانو په ګډون د ۱۳ تنو ژوند واخیست

د زابل په شملزو ولسوالۍ کې پرون سهار د ماین په یوه چاودنه کې ۱۳ ملکي وګړي ووژل شول. د زابل مرستیال والي محمدجان رسولیار د چنګاښ پر ۱۱ مه وویل، چې چاودنه سهار د سرحدي ولسوالۍ د شملزو په زنځیر سیمه کې وشوه.

هغه زیاته کړه، چې چاودنه د هغو کډوالو پر موټر وشوه، چې له پاکستان څخه راستانه شوي وو او غوښتل یې، چې د غزني ولایت ناوې ولسوالۍ ته لاړ شي. رسولیار وایي، چې په دې چاونه کې د څلورو ښځو او دوو ماشومانو په ګډون ۱۳ تنه وژل شوي او موټر یې هم په بشپړه توګه ویجاړ شوی دی. د والي مرستیال د دې چاودنې پړه د دولت پر وسلوالو مخالفینو واچوله او ویې ویل، چې په اړه یې پولیسو په سیمه کې پلټنې پیل کړې دي. د دې چاودنې مسوولیت کومې ډلې پر غاړه نه دی اخیستی. د یادونې ده، چې د ورځې وړاندې په نیمروز ولایت کې د مسافرو پر یوه ۳۰۳ موټر د چاودنې له امله ۱۳ عام وګړي ووژل شول او ۳۳ نور ټپیان وو.

کابل ښاریانو د پاکستان پر ضد لاریون وکړ

په کابل کې دافغانستان پر خاوره د پاکستان له خوا د بریدونو پر ضد لاریون ترسره شو او قهرجنو لاریون کوونکو دغه بریدونه په کلکه وغندل.

لاریون کوونکو، چې شمېر یې څه د پاسه دوو سوو تنو ته رسېده، پرون سهار ۹ بجې یې د نوي ښار له پارک څخه د ملګرو ملتونو سازمان (یوناما) دفتر پر لور لاریون وکړ او بهرته په دغه پارک کې راغونډ شول. امنیتي ځواکونه وایي، چې په درېیو روستیو اوونیو کې څه باندې ۵۰۰ توغندي د پاکستاني ځواکونو له لوري د کونړ او ننګرهار په سرحدي سیمو توغول شوي، چې په ترڅ کې یې د ماشومانو او ښځو په ګډون ۴۰ ملکي وګړي وژل شوي، لسګونه ټپیان او سلګونه کورنۍ بې ځایه شوې دي.

دغه لاریون د ملي مشارکت ګوند رییس او د ولسي جرګې د پخواني غړي نجیب الله کابلي له لوري پر لاره اچول شوی و او ګډونوالو (مړ دې وي زرداري، مړه دې وي پاکستاني پوځیان او مړ دې وي ای ایس ای) شعارونه ورکول.

کابلي په خپلو خبرو کې د دغه لاریون **۳مـخ**

افغان جګړه د امریکا لپاره له درنو مصارفو سره سره د یوه ستر چلبنج په توګه!

۲

افغان جګړه د امریکا لپاره له درنو مصارفو سره سره د یوه ستر چلینج په توګه!

میوند

دامریکا له خوا په افغانستان کې له پیل شوې جګړې لس کلونه تېر شول، خو دا جګړه نه یوازې د راتولېدو او پای ته رسېدو پلو نه لاړه، بلکې لا پسې پېچلې او د سختېدو په طرف لاړه. سره له دې چې دامریکا ولسمشر بارک اوباما د دې جګړې د پای ته رسولو ځواکونه پرېښودل، خو دا ستراتېژي کې هم بدلون راوړو او همداشان یې ځواري په افغانستان کې د خپلو پوځونو په مشرتابه کې ادولون بدلون راوست، خو بیا یې هم کومه مثبته نتیجه ورنه کړه او دوی دې هېواد ته د سولې، خوښۍ، سوکالۍ، نېکمرغۍ او ابادۍ پر ځای په خلکو کې د جنګ، وېر، غم او درد هیلې راژوندۍ کړې او خلک یې په ډول ډول عذابونو او بدبختیو کې سره ښکېل کړل، ځکه ځومره چې په دې هېواد کې جګړه غځېدلې، هومره ورسره دوېرې، وژنې، غمونو او دردونو کچه هم په بره تللې او ځومره چې جګړه دوامداره شوې، هومره ورسره بدمرغۍ او نارامۍ هم شدت پیدا کړې او په افغانستان کې داسې یو حالت راغلی دی، چې دا جګړه یو ډول د ګونګتیا او پېچتیا په لور هم روانه ده، سره له دې چې په دې وروستیو وختونو کې د افغان جګړې د پای ته رسولو او له مخالفو غاړو سره د مذاکراتو پر پروسې هم کار روان دی، خو ورسره جوخت د جګړې لیکې هم تراوسه ښې ټودې دي او په راتلونکي کې هم د جګړې پراخ پلانونه موجود دي. دا چې دا جګړه به اخر په کومه ځي، ځوک به یې ګټي او څنګه به پای ته رسول کېږي، دا لا وختي ده، خو له همدې موضوع په ارتباط د افغانستان په جګړې کې د امریکا د مصارفو اندازه هم تراسمانه ختلې او ان دا جګړه د امریکا لپاره د امریکایانو دوینو په بیه تمامېږي، دا ځکه چې دا جګړه د امریکا لپاره پر یوه لوی چلینج هم بدله شوې او له شرمه هم د دې جګړې د ګټلو کوشش کوي! په همدې حال کې د افغان جګړې د مصارفو په هکله د امریکایي ځواکونو د برون پوهنتون د نړیوالې مطالعاتو ډیپارټمنټ یوه څېړنه کړې او په دې څېړنه کې ویل شوي، چې د امریکا د جګړې ورستی لګښت کېدای شي چې ۴,۴ تریلیونه ډالرو ته ورسېږي. کله چې ولسمشر اوباما د افغانستان د جګړې لوړ لګښت له هغه هېواد څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو یو لامل یاد کړ، ویې ویل چې، د افغانستان پر جګړې د یو تریلیون ډالرو څخه ډېرې پیسې لګېدلي دي. د افغانستان، عراق او پاکستان د جګړو ټول مصرفونه په دغه رقم کې نه شامیږي. دغه راز کله چې اوباما له یو تریلیون ډالرو څخه یادونه کوله، په هغه کې د افغانسستان د جګړې راتلونکي لګښتونه هم شامل نه وو. د برون د پوهنتون د مطالعاتو پر اساس لس کاله وروسته تر هغې چې متحدایالات د طالبانو او القاعدې شبکې د ریښو د ایستلو لپاره افغانستان ته لاړل، د دغې جګړې لګښت د ۲,۳-۲,۷ تریلیونو ته رسېږي. د دغه پوهنتون د مطالعاتو له مخې د امریکا د جګړې مصرفونو به تر ۲۰۲۰ کال پورې داورد مهالو پروژو له امله لا پسې ډېر شي. د دویچ ویله د معلوماتو پر بنسټ، د برون د پوهنتون مطالعات ښیي چې لږ تر لږه یو تریلیون داسې لګښتونه هم شته چې د امریکا متحدایالات یې د افغانستان د جګړې په لګښتونو کې نه شاملوي. د انساني تلفاتو له لحاظه هم، د افغانستان او عراق جګړې ډېرې خونړۍ دي. د امریکا په ورستیو جګړو کې په مستقیمه توګه د ۲۲۴۰۰۰ څخه تر ۲۵۸۰۰۰ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی. یوازې په عراق کې ۱۲۵۰۰۰ ملکي وګړي په ورستیو جګړو کې وژل شوي دي. د دغو جګړو په پایلو کې خو بیا ډېر شمیر نور کسان په غیر مستقیمه توګه وژل شوي دي. لکه ډېر شمېر ۳ مخ

سرمقاله

د لوی او ښونکي خدای (ج) په نامه

تنش های مصنوعی و بهره برداری های سیاسی!

وضعیت کشور در این روزها ظاهرا سخت بحرانی به نظر می رسد. ولی اینکه این تنش های درونی و بحران های ناشی از آن چه گونه تحلیل می شود، وضعیت به گونه یی ساخته و جلوه داده می شود که حتا آگاهان سیاسی و صاحب نظران از ارایهٔ یک تحلیل منطقی و معقول در مورد عاجز مانده اند.

از سویی قوهٔ مقننه به وسیلهٔ محکمهٔ ویژه که به وسیلهٔ رییس جمهور ساخته شده، بی اعتبار و سلب صلاحیت می گردد، از سوی دیگر، در یک واکنش انتقام جویانه، نهادهای قضایی یا به صورت فشرده قوهٔ قضاییه به وسیلهٔ نماینده گان مجلس سلب اعتماد می شود؛ در ادامهٔ این جنجال ها و بحران صلاحیت و اعتبار، تنش های دیگر روی موضوعات ظاهرا فراموش شده، رو سازی شده، به وسیلهٔ دست های پیدا و پنهان به صورت بسیار ماهرانه روی صحنه قرار می گیرد؛ بحران کابل بانک، فرار رییس بانک مرکزی و اعلام استعفای وی در یکی از ایالات امریکا.

این رویدادها به صورت زنجیره یی و تسلسل در حالی روی تخته قرار می گیرد که در این بعد زمانی وضعیت جاری کشور بازهم از هر لحاظ قابل توجه است؛ فساد اداری، ده ها و صدها نابسامانی دیگر امنیتی، اجتماعی، اقتصادی و مردمی بازهم بیداد می کند، جنگ در کشور نه تنها همچنان ادامه دارد، بلکه با گذشت هر روز دامنهٔ آن گسترده تر و ابعاد آن بحرانزاتر می گردد، کشتار و آزار غیرنظامیان به وسیلهٔ نظامیان روز مردم ما را سیاهتر ساخته و حملات انتحاری و بمباردمان های بی رحمانه و تلاشی های خودسرانهٔ قوای ایتلاف، روز سپید این ملت مظلوم را شام تاریک ساخته است. فقر و بیکاری، افزایش قیم، قانون شکنی قدرتمداران و حکمروایی بی حد و حصر زورمندان محلی زنده گی را بر مردم تنگ و آنها را به جنگ آورده است.

با توجه به این رویدادها، چنین به نظر می رسد، دستگاه های درون قدرت به اشارهٔ بازیگران اصلی، در پی تسلسل و تداوم همچو تنش های مصنوعی اند، تا از سویی ذهنیت ها را مشغول و زمان را خریداری و به ضرب المثل مشهور " آب را گل آلود و ماهی مطلوب خود را بگیرند" و به این ترتیب، به چشمان مردم خاک ریخته و از تنش های به وجود آمده و بحران ناشی از آن بهره برداری های سیاسی خود را نمایند، تا باشد قدرت سیاسی مافیاگونهٔ آنها مادالعمر برقرار باشد و بس.

پانه‌تا؛ وارث چالش‌های پنتاگون

تحلیل - تایم

لئون پانه‌تا در شرایطی سکان هدایت وزارت دفاع امریکا را به عهده می‌گیرد که وارث جنگ عراق و افغانستان، مناقشات داخلی کنگره، بن‌بست لیبیا، کاهش نیروها در افغانستان و انتخابات ۲۰۱۲ امریکا شده است.

از مقر سازمان سیا، جایی که لئون پانه‌تا به مدت دوسال‌ونیم ریاست آنرا برعهده داشت، تا پنتاگون که وی روز جمعه ریاست آنرا به عنوان وزیر دفاع برعهده گرفت، راه چندان زیادی نیست، اما دو دنیای مجزاست. حجم سازمانی، چشم‌انداز و مخارج سازمان اطلاعات و جاسوسی امریکا در مقابل پنتاگون ناچیز به نظر می‌رسد.

گرچه پانه‌تا به حوزهٔ مسایل امنیت ملی کاملا واقف است، اما باید گفت به غیر از جنگ عراق و افغانستان، درگیری‌های داخل وزارت دفاع و مناقشات در کنگره، وی با چالش‌های عظیمی در پنتاگون مواجه خواهد شد. پانه‌تا پس از مدت‌ها انجام وظیفه در پشت دیوارهای مخوف سیا، حال در پنتاگون با موشکافی افکار عمومی روبه‌رو می‌شود.

مسایل دیگری نیز وجود دارد که شرایط را برای پانه‌تا پیچیده‌تر می‌کند و از جمله آنها می‌توان به این حقیقت اشاره کرد که امریکا خود را برای انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۱۲ آماده می‌کند و نیز، اینکه گمانه‌زنی‌هایی مطرح شده است که نشان می‌دهد، احتمالا پانه‌تا تنها در دورهٔ فعلی دولت بارک اوباما، رییس‌جمهور امریکا خدمت خواهد کرد.

از سوی دیگر، وزیر دفاع جدید ۷۳ ساله، پیرترین فردی است که تاکنون چنین سمتی را در پنتاگون به دست آورده است. وی وارث ماموریت کاهش مشارکت امریکا در افغانستان و عراق است و این درحالی است که وی باید هدایت دولت اوباما را نیز، در بن‌بست لیبیا که سبب ایجاد مشکلات سیاسی داخلی برای رییس‌جمهور امریکا شده است، بر عهده بگیرد.

چالش دیگری نیز پیشروی وی قرار دارد که حملات جدید علیه بودجه پنتاگون است. گوردون آدامز که از سال ۱۹۹۳ تا ۱۹۹۴ مدیر بودجه کاخ سفید بود و برای پانه‌تا کار می‌کرد، گفت: رییس‌جمهور امریکا هم‌اکنون با بحران بودجهٔ هنگفتی روبه‌رو است و در واقع باید بگویم که پانه‌تا در شرایطی وارد وزارت دفاع امریکا می‌شود که مذاکرات دربارهٔ بودجه به اواسط راه رسیده است. رابرت گیتس که ص ۳

ایران هم به نعل می کوبد و ...

شده اند. در ماه های اخیر افغانستان هم شاهد حملات شدید بوده است که تلفات قوای خارجی و مردم ملکی افغان در آن افزوده است. از سوی دیگر، مقام های افغان نیز تایید کرده اند که اسلحهٔ ایرانی به دست مخالفان رسیده است. این منبع امنیتی که نخواست از وی نام گرفته شود، در گفتگو با رادیو آزادی گفت، مرمی هایی ساخت ایران در ولایات هلمند، فراه و نیمروز به دست آمده که به گفتهٔ این منبع از طرف ایران در اختیار مخالفان دولت افغانستان قرار داده شده است.

افغان جګړه د امریکا لپاره له درنو ...

کسان چې د جګړې له املې د ځنډاک پاکوا بوته خپل لاسرسی له لاسه ورکړی.

همدارازدامریکا په وروستیو جګړو کې ۳۶۵۰۰۰ کسان ټپیان شوي او ۷،۸ میلیونه انسانان بې ځایه شوي دي.

د بروکن پوهنتون دامریکا د ورستیو جګړو د مصارفو د تاکلو لپاره ۲۰ څیړونکي په کار ګمارلي وو. د دغو کسانو د مطالعاتو پایلې له هغه څه سره چې دامریکا دولت یې اعلانو، ډېر توپیر لري. د «جګړې لګښت» د پروژې له خوا په خپاره شوي راپور کې دا خبره هم روښانه شوې چې د افغانستان، عراق او پاکستان جګړې به تر ډېره دامریکا پر بودجې فشار راولي. نو د دې لپاره چې دا جګړه چې دامریکا او غربي نړۍ لپاره د سرونو په بیه تمامېږي، په حقیقت کې د دوی لپاره یو سیاسي او له اقتصادي رکود څخه د بچ کېدو لپاره چلښنج نه دی او ایا دوی تر اوسه پورې دومره څه لاسته راوړي، چې د دې مصارفو جبران وکړي؟

د افغانستان جګړه ولې په خټیځو ...

امریکایي عسکرو په شمول د ۳۲ زره پوځیانو قوماندې پر غاړه لري، وایي چې په دې سیمه کې جدي ستونزې شته. ده وویل: «دا سیمه ۱۴ ولایتونه لري؛ د افغانستان په دې سیمه کې له پاکستان سره ۴۵۰ کیلومتره پوله لري، له جغرافیایي نظره د افغانستان تر ټولو له لوړو ژورو ډکه سیمه ده. ده وویل چې تر اوسه پورې امریکایي پوځیانو د لوېدیځو ولایتونو لپاره لوی پلان نه دی لرلی او نه یې اجرا کړی دی.

له لوېدیځ څخه دامریکایي پوځیانو هدف د افغانستان د خلکو په اصطلاح جنوبي یاد خوسته، پکتیا او پکتیکا ولایتونه دي چې د حقاني شبکه په کې زیاته فعاله ده.

امریکا له افغانستانه سرتېرې باسي ...

افغانستان ته روان شي. ډګروال کلوتز چې د پوځي وضعیت الزاس سیمې ته د پوځي تمریناتو د کتلو لپاره تللی و، همدارازوویل چې دا ځواکونه به د افغانستان په کاپیسا ولایت کې شپږ میاشتې پاتې شي. د ستراتسبورګ ښار د الزاس د سیمې د زرغره وال کنډک د قومندان ووېل چې دا مانوره د زغرګاټو او د دغه کنډک د ټانکونو ترمنځ د هماهنګۍ لپاره کېږي. ده اټکل وکړ چې ژر به په یوه داسي سیمه کې بله مانوره ترسره شي چې جغرافیایي شرایط یې یا افغانستان ته ورته وي یا په مصنوعي ډول هغې شرایط برابر شي. فرانسه حاضر دمه په افغانستان کې د پرې زره اووه سوه سرتېري لري او له ۲۰۰۱ تر اوسه پورې ۶۴ فرانسوي پوځیان په افغانستان کې وژل شوي دي.

کابل ښاریانو د پاکستان پر ...

موخه د پاکستان له خوا د افغانستان پرخاوره د بریدونو ژر بندېدل وبلل او ویې ویل، چې افغان دولت باید دې ته ورته عمل وکړي او پاکستان دې په رسمي توګه د خپلو بریدونو په اړه بښنه وغواړي. هغه په دغه ګواښ سره، چې د دغو بریدونو پرواندې به افغان ولس پاڅون وکړي زیاته کړه: ((مور پخوانی زبرځواک شوروي مات کړ او که پاکستان هم خپل یرغل ته دوام ورکړي، د هغه هېواد پر وړاندې به هم پاڅون وکړو.)) یوه لاریون کوونکي شکیب احمد وویل، چې بریدونه باید ودرېږي او ستونزه باید په سوله ییزه توګه حل شي. هغه زیاته کړه: ((سربېره له دې، چې پاکستان زمور پر خاوره بریدونه کوي، تروریستان او ځانمرګي زمور د هېواد ورانولو ته رالېږي.)) لاریون کوونکو ټینګار وکړ، که بریدونه ونه درېږي لاریونونه به یې له کابل ځخه نورو ولایتونو ته هم وغځېږي. هغوی یو پرېکړه لیک هم خپور کړ او جمهوري ریاست، یوناما، ملي شورا، د اروپایي ټولنې نمایندګیو او د اسلامي هېوادونو کنفرانس ته یې وسپاره. په پرېکړه لیک کې له ملګرو ملتونو او ایساف ځواکونو غوښتنه شوې، چې باید د دغو بریدونو ځواب ورکړي. په پرېکړه کې ځرګنده شوې: ((مور له ملګرو ملتونو، د اسلامي هېوادونو سازمان، اروپایې ټولنې، امریکا، د بشر د حقونو د بنسټونو او له ډله ییزو رسنیو غوښتنه کوو، چې د پاکستان د ښکاره بریدونو مخه دې ونیسي او محکوم دې کړي.)) په پرېکړه لیک کې له ملګرو ملتونو غوښتل شوي، چې د دې ستونزې د حل په خاطر دې ډېرنی ناسته جوړه کړي. د کابل ۱۰۱ اسمایي زون د مطبوعاتي دفتر قوماندانی وایي، چې دغه لاریون سوله ییز او د لاریون کوونکو امنیت د ۱۰۱ اسمایي زون د پولیسو له لوري نیول شوی و. دغه لاریون په داسې حال کې ترسره شو، چې تېره اونۍ ولسمشر حامد کرزي د جمهوري ریاست په مانې کې د پاکستان د باندنیو چارو وزارت له مرستیال سلمان بشیر سره په لېدنه کې د پاکستان له خوا د افغانستان پر خاوره د راکټي بریدونو د درېدو فوري غوښتنه وکړه. د پاکستان د دفاع وزیر چوهدري احمد مختار تېره اونۍ د افغانستان پر خاوره د پاکستان له لوري د بریدنو په غبرګون کې ویلي وو، چې د افغانستان او پاکستان ولسمشرانو په دې اړه په تهران کې ګډوډي خبرې اترې درلودې. د ملي دفاع وزارت ویلي، هره پرېکړه چې د هېواد سیاستمدران او مشران ونیسي هغوی حاضر دي، څو هغه عملي کړي.

افغانستان د پاکستان تر بریدونو ...

درې نور جزوتامونه هم له درنو وسلو سره سیمې ته استول شوي دي. ده وویل، چې ورمه ورځ د ملي اردو ځواکونو د خوست په تنیو ولسوالۍ کې د پاکستان له خوا پر دې ولسوالۍ د دوو هاوانونو بریدته د ۱۲۲ ملي متري توپ په اتو ډزو سره ځواب ویلی دی. وردګ وویل، چې د ملي اردو ځواکونو په سرحدي سیمو کې کشفي فعالیتونه ډېر کړي او اړین معلومات یې ترلاسه کړي دي.

ده پر ایساف ځواکونو هم نیوکه وکړه، چې د دې بریدونو په مخنیوي کې یې لازمه همکاري نه ده کړې. وردګ یادونه وکړه، چې ورمه ورځ پاکستاني چورلکې د افغانستان خاورې ته ۴ کیلومتره ننوتې وې او بریدونه یې هم کړي دي.

دی وایي چې په دې اړه یې احتجاج هم کړی دی، ځکه چې ایساف په ۲۰۰۱ کال کې د افغانستان دهوایي حریم مسوولیت پر غاړه اخیستی و. ده وویل، چې د افغانستان د دفاع وزارت د خپل توان په اندازه لازم احضارات نیولي او د ملي شورا او وسلوالو ځواکونو د اعلی قوماندان په امر سره به اړین اقدامات وکړي.

د کورنیو چارو وزیر بسم الله محمدي د ولسي جرګې په غونډه کې وویل، چې له ولسمشر کرزي سره پاکستان ته په سفر کې یې د پاکستان له کورنیو چارو وزیر سره په ګډه ناسته کې، د دغو بریدونو د یادونې ترڅنګ یو لړ اسناد او شواهد هم وړاندې کړل. ده وویل چې په دغو اسنادو کې د قربانیانو عکسونه، د توغول شویو توغندیو شمېر، د لګېدو ځایونه، وخت او ورځخه د رامنځته شوې مرګ ژوبلې کره شمېره شامل و. خو محمدي وایي، چې پاکستانیو چارواکو له دغو بریدونو په ډېرې بې شرمۍ بې خبري ښودلې ده.

ده وویل: ((مور چې اقدامات وکړل او انتظار مو وکړ، چې خدای ناخواسته مخکې له دې چې جنګ ته لاړ شو او یا په داسې حالاتو کې خدای ناخواسته زمور اړیکې خرابې شي؛ خو دا چې هغه مو هره ورځ وولي او تعرض وکړي، مور تر اخره بې تفاوته نه شو پاتې کېدای.)) ده په هېواد کې شته ستونزو ته په کتو سره، په جګړې ژر لاس پورې کول، مصلحت و نه ګاڼه؛ خو زیاته یې کړه، چې له دغو ټولو ستونزو سره سره، که د افغانستان پر خلکو بریدونه دوام وکړي، بیا به د افغانستان هر یو وګړی د عسکر په توګه له خپلې خاورې دفاع وکړي. محمدي وویل چې د افغانستان حکومت او ملي شورا، چې په دې اړه هر اقدام اړین وبولي، نو د کورنیو چارو وزارت به یې پلی کړي. د کورنیو چارو وزیر وایي، چې د پاکستان له خوا د افغانستان پر خاورې بریدونه د تېر کال له وروستیو پیل شوي، چې هغه مهال پاکستانیو چارواکو له خپلو مخالفینو سره د جګړو په پلمه، د توغندیو بریدونه تېروتنه بلله او بښنه یې غوښته. د محمدي په وینا، د پاکستان له خوا د افغانستان پر سرحدي سیمو بریدونه د غوبي د میاشتې له ۲۸مې وروسته زور موندلی، چې تر دې مهاله په بېلابېلو سیمو کې د افغانستان پر خاورې ۷۶۱ توغندي لګېدلي دي. دده د معلوماتو له مخې، په دې بریدونو کې د ۱۲ بنځو په ګډون ۴۲ ملکي کسان وژل شوي او ۵۰ تنه نور ژوبل شوي دي. دی هم وایي، چې د کورنیو چارو وزارت امنیتي ځواکونه په سرحدي سیمو کې لومړی درجه احضارات لري او سیمې ته یې په پوره اندازه وسلې هم استولي دي. دده په وینا، په دغو وسلو کې دهشکه، هاوان، اس پي جي ناین (SPG9) او ۸۲ ملي متري توپونه شامل دي. محمدي هم وایي، چې په ځینو سیمو کې افغان امنیتي ځواکونو د پاکستان د بریدونو پرواندې غبرګون نبودلی او همدارازې د قربانیانو له کورنیو سره یو لړ مرستې هم کړې دي. دی وایي، چې په ختیځ زون کې د سرحدي ځواکونو د قوماندان جنرال امین الله امرخېل استعفا یې نه ده منلې او ورته یې ویلي دي، چې خپلې دندې ته دوام ورکړي. امرخېل تېره اونۍ ځکه له دندې استعفا ورکړه، چې د پاکستان د بریدونو په غبرګون کې دورته کړنې اجازه نه ورکول کېده. د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر زلمي رسول دولسي جرګې په غونډه کې ووېل، چې د پاکستان سفیر احضار کړی او خپل سخت غبرګون یې ورته څرګند کړی دی. ده زیاته کړه، چې د بهرنیو چارو وزارت له خپلو ټولو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره، په دې برخه کې خپل غبرګون پاکستانیو چارواکو ته رسولی دی؛ خو تر دې مهاله یې دقناعت ور ځواب نه دی ترلاسه کړی. دی وایي، چې پاکستانی لوري په دې اړه بې خبري ښیي. په ننني غونده کې د ملي امنیت سرپرست رییس رحمت الله نبیل او د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر اسدالله خالد هم حاضر وو. د ملي امنیت رییس په سري ډول ملي شورا ته څرګندونې وکړې او د خبرو پرمهال یې له رسنیو څخه وغوښتل، چې د جرګې له تالار څخه ووځي.

همدارازد قبایلو چارو وزیر اسدالله خالد په غونډه کې ووېل، چې د دې وزارت اړونده کارکوونکو په هغو سیمو کې، چې د پاکستان له خوا پرې بریدونه شوي دي، د ځاني او مالي زیانونو څېړنه کړې او خپل معلومات یې ولسمشر ته وړاندې کړي دي. خالد وویل، چې زیانمنې شوې سیمې د دې وزارت له خوا تثبیت شوې، ترڅو مرستې ور ورسول شي.

پانه‌تا؛ وارث چالش‌های ...

وزارت دفاع را به مدت چهارسال‌ونیم اداره کرد، همچنین چالش اجرای لغو سیاست "نپرس و نگو" را که مانع از فعالیت آزادانه هم‌جنس‌گرایان در ارتش می‌شود، به پانه‌تا واگذار کرد. گفته می‌شود که آماده گی در داخل ارتش برای پایان منع فعالیت هم‌جنس‌گرایان در ارتش به خوبی پیش می‌رود، اما این تغییر تاریخی پس از دو دهه با احتمال شکست و بروز نارضایتی روبه‌روست. انتقال آرام به شرایط جدید نیز به عهده پانه‌تا گذاشته شده است. ادامز که هم‌اکنون پروفسور روابط بین‌الملل در یک پوهنتون امریکاست، گفت: پانه‌تا از یک مزیت برخوردار است و آن این است که روابط دوستانه‌یی با اوباما دارد.

وی ۱۶ سال عضو مجلس نماینده گان امریکا بود و در آن دوران چهارسال نیز، ریاست کمیتهٔ بودجهٔ کاخ سفید را برعهده گرفت. آدامز در ادامه اظهار کرد: جمهوری خواهان و دموکرات‌ها همواره از وی به عنوان فردی کوشا یاد می‌کنند. سناتورجمهوری خواه لیندسی گراهام، پانه‌تا را گزینه داخلی جایگزین گیتس می‌داند. سنا با ۱۰۰ رای موافق حکم وزیر دفاعی پانه‌تا را تایید کرد و وی صبح روز جمعه در پنتاگون سوگند یاد کرد.

پانه‌تا همچنین قصد دارد، در ادامهٔ راه گیتس، روابط دوستانهٔ خود را با هیلری کلنتن، وزیر خارجهٔ امریکا حفظ کند. وزارت دفاع و وزارت خارجهٔ امریکا همواره کشمکش داشته‌اند، اما گیتس و کلنتن تلاش کردند، تا اختلاف‌ها را به حداقل برسانند. پانه‌تا از زمانی که کلنتن بانوی اول کاخ سفید بود، روابط دوستانه‌یی با وی داشته است. در سال ۲۰۰۶ پانه‌تا در کنار گیتس در گروه مطالعات عراق همکاری کرد و اینجا بود که وی به ماهیت این جنگ شک کرد. وی تاکید کرد که امریکا باید استراتیژی‌یی را ارایه دهد که بتوان طبق آن، نیروهای جنگی را از عراق خارج کرد، تلاش‌های ارتش را برای هدف قراردادن القاعده مورد بازبینی قرار داد و نیروهای امنیتی عراق را آموزش داد. وی بعدها جنگ عراق را «تفرقه‌انداز، بی‌ثبات و پرخطر» خواند. پانه‌تا احتمالا در ادامه سال میلادی جاری با درخواست دولت عراق مبنی بر حضور قسمتی از ۴۷ هزار نیروی امریکایی پس از پایان سال ۲۰۱۱ مواجه خواهد شد.

پانه‌تا زندگی سیاسی خود را به عنوان یک جمهوری‌خواه آغاز کرد و در دولت ریچارد نیکسون، رییس‌جمهوری اسبق امریکا در سال‌های ۱۹۶۹ تا ۱۹۷۴ به عنوان معاون ویژه وزیر صحت، تعلیم و رفاه امریکا و نیز به عنوان مدیر دفتر حقوق بشر امریکا خدمت کرد. وی در دههٔ ۱۹۷۰ گرایشش را به حزب دموکراتیک تغییر موضع داد و اولین‌بار در سال ۱۹۷۶ به مجلس نماینده گان امریکا راه پیدا کرد. پانه‌تا در کالیفورنیا متولد شد و سند لیسانس خود را در رشتهٔ علوم سیاسی از پوهنتون سانتاکلارا اخذ کرد و بین سال‌های ۱۹۶۴ تا ۱۹۶۶ به عنوان افسر استخباراتی در ارتش خدمت کرد.

روند انتقال مسوولیت های امنیتی و پرسش های بدون پاسخ

در حالی که در این روزها سخن از انتقال مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان زده می شود و این موضوع داغترین مسألهٔ روز را می سازد، توأم با آن روند خشونت نیز، رو به افزایش است. به نظر می رسد، مخالفان مسلح دولت با افزایش خشونت ها و ناامنی ها در سراسر کشور، در تلاش با چنین رویکرد این روند را به چالش بکشند. قرار است، از اواخر همین هفته، نیروهای اردوی ملی افغان مسوولیت امنیت را در کشور به عهده بگیرند.

نخستین مرحلهٔ سپردن مسوولیت های امنیتی از ولایات پنجشیر، بامیان، کابل به استثنای ولسوالی سروبی و شهرهای هرات، مزارشریف، لشکرگاه و مهترلام آغاز خواهد شد. همچنین روند واگذاری مسوولیت های امنیتی به افغان ها تاپایان سال ۲۰۱۴ به طول می انجامد.

اما آیا حکومت افغانستان در حالی که از ناکارآمدی کافی رنج می برد، توانایی این را دارد که این مسوولیت بزرگ و بس خطیر را به تنهایی به عهده بگیرد؟

بلی! ما موفق می شویم" حکومت افغانستان چند ماهی است که با این شعار به ولایات مختلف کشور می رود. کابل می خواهد قدرت و اعتماد به نفس خود را به نمایش بگذارد: اکنون که روند واگذاری امنیت رسما آغاز می شود.

صدیق صدیقی، سخنگوی وزارت داخله می گوید: "ما به بهترین وجه آماده ایم". وزارت داخلهٔ افغانستان حتا تازه ترین حملهٔ طالبان به هوتل انترکانتینتل را ضعف شورشیان و قوت حکومت تعبیر می کند.

به گفتهٔ صدیقی، نیروهای امنیتی افغان مدت هاست که توانایی خود را در عمل به اثبات رسانده اند.

سخنگوی وزارت داخله، کابل را مثال می آورد، جایی که مسوولیت امنیتی آنرا نیروهای افغان از دو سال پیش بدین سو به عهده گرفته اند. در حالی که تنها به خاطر حفظ امنیت شهر کابل به هزارها سرباز پولیس، امنیت ملی و وزارت دفاع ملی دست به کار بوده و در هر قدمی شهر یک پوستهٔ پولیس فعال می باشد؛ چنانکه اگر برای سراسر افغانستان همچو احضارات امنیتی در نظر گرفته شود، به صدها هزار سرباز نیاز است، چیزی که دولت افغانستان نمی تواند، تنها از عهدهٔ معاش و تجهیز آن به درآید.

افغانستان پس از انتقال مسوولیت امنیتی:

از سوی دیگر، کارشناسان بر این باور اند، در کشور پر از تفرقه و فقیری همانند افغانستان نمی توان در طول یک مدت کوتاه یک اردوی قوی و وفادار ایجاد کرد.

اما برخی از سیاستمداران محلی، مطمین نیستند، که آیا وضعیت پس از خروج نیروهای ایساف نیز باثبات خواهد ماند یا خیر...

محمد آصف مبلغ، معاون والی بامیان، نسبت به طرح های حکومت مرکزی اطمینان ندارد و می گوید: "امنیت هر ولایتی بستگی به وضعیت ولایات همسایه دارد. اگر پولیس و اردوی ملی در تمام افغانستان تقویت نشوند، ما نمی توانیم، امنیت را تضمین کنیم، اما در صورت همکاری، افغانستان به بهترین نحو اداره خواهد شد".

مسئوولان دیگر مناطق نیز که قرار است، مسوولیت آنها به افغان ها واگذار شود، نظرهای مشابهی دارند.

مسوولان این مناطق، علاوه بر این، از نبود تجهیزات برای پولیس محلی شکایت دارند.

قیوم مهمند، کارشناس مسایل سیاسی از «موسسهٔ تحقیق و انکشاف» در کابل به یک مشکل دیگر و به نظر او بزرگتر اشاره می کند. او می گوید: "بسیاری از اعضای اردوی ملی و پولیس در حال حاضر نه به تمام ملت افغانستان، بلکه نسبت به گروه های مختلف سیاسی خود را مدیون حس می کنند. تا زمانی که در افغانستان یک اردو و پولیس ملی وجود نداشته باشد، امنیت در کشور برقرار نخواهد شد".

ناظران می گویند، شاید کابل در این باره حق داشته باشد، اما در مورد مسایل امنیتی از گفتن حقیقت خودداری می کند.

به گفتهٔ قیوم مهمند، حکومت، این را که طالبان تا چه اندازه خطرناک و قوی هستند، پنهان می کند. حکومت می گوید، طالبان را به نحو قابل توجهی تضعیف کرده اند، اما حقیقت برخلاف آن است. ما شاهدیم که طالبان نه تنها در جنوب و شرق، بلکه در شمال کشور نیز، تقویت شده اند.

این کارشناس مسایل سیاسی می افزاید: "سیاست نادرست آگاهی رسانی، مردم را به طور فزاینده یی پریشان می سازد. بسیاری از خود می پرسند: آیا روند واگذاری امنیت آغاز می شود، به این دلیل که حکومت ما به اندازهٔ کافی تقویت شده است، یا چون کشورهای کمک کننده پس از ده سال دیگر کاسهٔ صبرشان لبریز شده است".

با این حال، برخی ناظران سیاسی وضعیت موجود کشور را بیش از پیش بحرانی توصیف می کنند؛ از سویی تنش های درون قدرت همه چیز را از حالت نورمال آن خارج ساخته است و از سوی دیگر، دامنهٔ شورش ها با گذشت هر روز گسترده می شود. چنانکه شب سه شنبهٔ گذشته در حالی که ما در آستانهٔ انتقال مسوولیت های قرار داریم، شهر کابل باردیگر شاهد رویداد خونین بود.

کارشناسان امنیتی می گویند، حمله بر هوتل انترکانتینتال، بدون شک به معنای پیروزی آشکار برای شورشیان بوده است. نورا بن ساهل تحلیلگر مرکزی موسوم به "امنیت جدید ایالات متحده" در واشنگتن، می گوید:

"حمله کننده گان خیلی محتاطانه هدف شان را انتخاب کرده بودند، تا اثرات سیاسی و روانی این حمله را بزرگ جلوه بدهند. این گونه حملات تنها به خاطر هدف نظامی آن انجام نمی شود، بلکه به این خاطر انجام می شود که یک پیام سیاسی را برساند. فکر می کنم، در چنین وضعی که نیروهای بین المللی مسوولیت امنیتی را به نیروهای افغان انتقال می دهند، این حمله بر مکانی که به شدت از آن حفاظت می شود، یک پیام سیاسی را انتقال می دهد. آنان نشان دادند که هنوز نیروهای امنیتی افغان آمادهٔ پذیرش مسوولیت امنیتی نیستند، بنابراین، خواستند اعتماد مردم نسبت به حکومت افغانستان خدشه دار شود".

ولی آیکن بیری سفیرامریکا در کابل انتقال مسوولیت های امنیتی را ثمرهٔ همکاری امریکا و افغانستان می داند.

وی که دیروز در محفل تجلیل از دوصدوسی وپنجمین سالروز استقلال آن کشور در کابل صحبت می کرد، گفت: "بدون مشارکت و همکاری های افغان ها نمی توانستیم، به این موفقیت ها برسیم؛ این کامیابی ها نتایج کارهای مشترک امریکا و افغان ها بوده است".

سفیر امریکا افزود: "مشارکت کامیاب امریکا با جامعهٔ جهانی و افغان ها ما را به این نقطهٔ زمانی رسانده است که قرار است مسوولیت امنیت تا چند روز دیگر، در هفت ولایت به نیروهای افغان سپرده شود".

ببینم که زمان و روند آیندهٔ اوضاع در این مورد چگونه قضاوت خواهد کرد، آیا نیروهای افغان خواهند توانست، از عهدهٔ این کار مهم سالم به در آیند، آیا پاسخگوی نیازمندی های امنیتی مردم افغانستان به وقت و زمان آن خواهند بود و یا خیر، این پرسش هایی است که کمتر کسی در مورد آن سخن گفته و نظر مثبتی در این مورد ارایه داشته اند.

نورا به این باورست که حمله سه شنبه شاید آخرین حمله نباشد.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده نوزدهم: ۴- کمیته بنابر صلاحدید خود ممکن است نظرات و پیشنهاد هایی که در ارتباط با بند ۳ این ماده و مربوط به دولت عضو مذبور است و ملاحظات خود و نظر دولتها را در گزارش سالانه خود و بر طبق ماده ۲۴ به مجمع عمومی ارایه دهد. اگر دولت عضو مذبور در خواست یک رونوشت از این گزارش را نماید، کمیته طبق بند (۱) این ماده این درخواست را اجابت می نماید.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com